(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرلیکونه


منته........................................ دریېم

ضروري يادونه................................ څلورم

سریزه........................................ شپږم

## لومړۍ برخه:

سابقه........................................ ۱

۱ - لومړی قوت، دانقلاب تیوري اوعمل.......... ۵

۲ - دويم قوت، دانقلاب تيوري اوعمل........... ۸

خو، په افغانستان کې.......................... ۱۰

لومړی، له ۱۹۹۵ نه مخکې...................... ۱۲

دويم، له ۱۹۹۵ نه را وروسته.................. ۱۳

په اجرائيه قوه کې............................ ۱۳

ددويم قوت بالقوه ماتې......................... ۱٤

## دويمه برخه:

ددريېم قوت تيوري............................. ۱۵

ددريېم قوت جوړوونکي توکي:

۱ - افغان ملت................................. ۱۸

۲ - يوه ايډيالوژيکه هسته....................... ۲۱

۳ - ددريېم قوت دتصرف اړخ، پير.............. ۲۳

٤ - ددريېم قوت مذهبي اړخ....................... ۲٥

٥ - لويه جرگه.................................. ۲۷

(لويه جرگه او نننۍ افغان سياست).............. ۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

**٥-لویه جرګه:**

جرګه د پښتونولۍ یو عمومي قانون دی. د پښتونولۍ یوزيات شمېر مقررات د جرګې له لارې عملي کېږي. جرګه د مقننه، قضائیه او اجرائیه قوې په توګه [۷۸] دافغاني ټولنې سیاسي کلتور ګرځېدلې دی.

جرګه د اشخاصو له خپلمنځي شخړو نه نیولې، د کورنیو، خېلونو او قومونو مسایل پرې کوي. کوچنۍ جرګې یا مرکې کوچنۍ او لویې جرګې سترې ملي ستونزې حل کوي.

جرګې دیوه دولتي شوي رسمي ځواک په توګه په افغانستان کې د دولتي قدرت د عنعنوي مثلث په یوه راس کې ان تر ۱۹۹۲ کال پورې لاځای درلوده. مشرانو جرګه (Senate) او ولسي جرګه (National· Assembly) په افغانستان کې د ملي پارلمان (National Parliament) یا مقننه قوې د دوو جوړوونکو توکو په توګه په افغانستان کې د عنعنوي مرکو او جرګو یوه پرمختللې او دولتي شوې بڼه ده [*۷۸]. برسېره پر دې، د لویې جرګې په غونډو کې په پارلمان او قضائیه قوې د دووګډون کوونکو غړو په توګه برخه اخیستله [۷۹].

پدې مانا چې جرګه دیوه بېرته پاتې او قبایلي ژوند دیوې پدیدې په توګه نه، بلکې د یو ټولنیز او سیاسي کلتور په توګه د پخوانیو آریایانو نه نیولې د پرمختګ او تمدن سره اوږه په اوږه ترمونږ رارسېدلې ده.

دافغانستان د ۱۹٦٤ کال داساسي قانون په ٤٥ ماده کې لویه جرګه دافغانستان د خلکو دستر قوت، واک او ارادې ښکارندویه موسسه وګڼل شوه [۸۰].

په عمومي توګه په تېرو شپېته باندې دوه نیمو پېړیو کې (۱۹۷٦-۹۰۱۷) شل لویې جرګې په افغانستان کې داساسي قوانینو د جوړولو، تصویبولو، دافغان دولتونو د تاسیسولو او نورو ملي ستونزو د حل لپاره تدویر شوېدي [۸۱].

په بدو او سختو ورځو کې د تصمیم نیولو دیوې باصلاحیته ملي موسسې په توګه لویې جرګې دافغانستان په سیاسي تاریخ کې مهم رول لوبولی دی.

د معاصر ملي تاریخ د څو لویو جرګو مثالونه خپله په خپله نن سبا لویې جرګې ته د دریم قوت په جوړولو کې بیا هم دیوې ملي باصلاحیته موسسې

